د سپوږمۍ او لمر کیسې
دوهمه کېسه

# هغه ورځ چې لمر پخلی کوي





د سپوږمۍ او لمر کیسې

دوهمه کیسه

ISBN: 978---3-911-116--
9 783911 116046

د سپوږمۍ او لمر کیسې
دوهمه کیسه

# هغه ورځ چې لمر پخلی کوي

نوم: د لمر او سپوږمۍ  کیسې/ هغه ورځ چې لمر  پخلی کوي

سني ډله  : ج-د

لیکوال: بهرام رحمان
ژباړه: نسرین حمیدي
ایډیټر: انور وفا سمندر
انځور اخستونکی اوډیزاینر: محمد مهدي حفیظي
خپرونکی: انجمن آباد - برلین
د خپرېدو کال: ۱۴۰۲ لمریز -۲۰۲۳ میلادي کال

ددې آثر ټول معنوي حقوق په « آباد بنسټ » پورې اړه لري د انځورونو او محتوا له تغیر پرته یې په بریښنایي ډول خپرول جواز لري.
په چاپي بڼه ددې کتاب د بیا خپریدلو له امله باید خپروندې ته په لیکلي بڼه خبر ورکړل شي.

ISBN: 978-3-911116-04-6
admin@abad-berlin.de

سپوږمۍ سهار وختي راپاڅېدله. هغه له چرګ‌بانګ مخکې راویښه شوې وه.
له بستره به راولاړه شوه، کړکۍ به یې خلاصه کړه او نوې ورځې ته به یې ښه راغلاست وایه.



له دې وروسته به سپوږمۍ له اوبو ډکه لویه چایجوشه پر اور کېښوده، او ورپسې به یې د ورور سهارنۍ لپاره، ډوډۍ او په بورې خوږې شوې شیدې تیارولې، چې ښوونځي ته یې ځان سره یوسي.



د سپوږمۍ له لمر سره مرسته کول خوښېدل. سره له دې، چې لمر څو ځله سپوږمۍ ته ویلي و، چې سهارنۍ ته اړتیا نشته؛ خو دا چې مور یې ناروغه وه، نو سپوږمۍ د ورور پر وړاندې دا مسئولیت په خوښۍ سرته رساوه.





د سپوږمۍ لپاره يې غبرګونې ورور، تر ټولو خوږ دوست و. او اوس يې (وړوکې ښوونکې) هم و.

له هغې ورځې، چې ښوونځي د نجونو پرمخ تړل شوي، سپوږمۍ مجبوره شوې چې کور کې بنده پاتې شي؛ خو ښه و، لمر ښوونځي کې ټول ياد کړي درسونه، سپوږمۍ سره هم شريکول.



سپوږمۍ ډېره ځيرکه او خواريکښه نجلۍ وه. هغې د ټولو کتابونو پوهېدلو کې هېڅ ستونزه نلرله. سپوږمۍ ځان سره ويل: «هر وخت چې ښوونځي بېرته خلاص شول، بيا به هم اول نمره‌ګي نيسم!»



خو یوه ورځ سپوږمۍ د خپل ټوخي او پرنجي په غږ راویښه شوه. او ګوري، چې سره تبه یې ده! په دردمن حالت له بستره راپاڅېده؛ خو ځان کې یې سیک نه و. ځانته یې کړل: «اوو، لکه چې سړو وهلې یم؛ ځه که په یو څه نور خوب‌کولو سره ښه شم!» هغه بېرته بستر کې پریوته.





لمر، چې  له خپلې خونې راووت، ویې لیدل، چې پخلنځي کې څوک نشته.



حیران ودرېد: هغه لپاره سباناری نه و تیار! ګوري، چې د مور او د خور له خونو د هېڅ شي آواز نه راځي! لمر دې لپاره چې پرې ناوخته نشي، په بېړه  د ښوونځي په لور روان شو؛ خو نه پوهېده، چې کور کې ولې داسې سخته خاموشي وه!



د ښوونځي له رخصتېدو سره، لمر وړی تږی کور ته راغی او له واره یې په لوړه غږ کړل: «سلام مورې! سلام سپوږمۍ! څه شی مو پاخه کړي، هلئ چې سخت وږی یم!»، خو ځواب یې وانه‌ورېد. په پخلنځي کې هم څوک نه و!



دیخوا او هغې خوا یې نظر وځغلاو، خو ګوري، چې د خوړو هېڅ درک نشته. د تېرې شپې لوښې هم نامینځلي ایښي دي.
دې وخت کې د سپوږمۍ له خونې، د هغې د ټوخي او پرنجي غږ راغی! لمر  په بېړه ورغی.



«سپوږمۍ، ته خو به ښه يې!؟» لمر دا وپوښتل او بيا يې ژر-ژر د کړکيو پردې لېرې کړې، چې د لمر زرينې وړانګې خونه روښانه او توده کړي.
سپوږمۍ وويل: «هو، هو؛ ښه يم» هغې هڅه وکړه، چې له بستره را ولاړه شي. «اوس درته ډوډۍ تياروم؛ خامخا به ډېر وږی شوی يې. مور هم بايد خپله دوا وخوري...»



ګلمر د سپوږمۍ ددې حالت په ليدلو سره، د هغې خبرې ونيولې: «نه نه! ته مه ښوره!!». هغه د سپوږمۍ پر تندي لاس کېښود، تبه يې وکتله او ورته کړل يې: «ته آرام وکړه، زه نن آش پخوم... په ياد دې دي، چې مور وېل: «ناروغ چې شوئ، آش يې دارو دی.»



سپوږمۍ په کمزوري حالت لمر ته وویل: «بیا نو غوږ شه، چې د مورجانې د شلغمو آش پخولو طریقې راز درته ووایم!»
دې سره لمر ډېر خوشاله شو او کړل یې: «د مورجانې د آش له راز سره به زما آش هم خامخا خوندور شي.»



ځمر د آش پخولو په وخت کې، د سپوږمۍ لارښوونې یوه په بله پسې، عملي کولې. له څه ځنډ وروسته د آش خوږ بوی د پخلنځي فضا ډکه کړه.



سپوږمۍ او مور يې د ډوډۍ خوړلو مېز ته راغللې. سپوږمۍ د پزې له لارې ښه ساه کش کړه او بيا يې په خوشحالۍ وويل: «آه، څه ښايسته بوی لري!»

مور يې وويل: «مننه زويه!» مور، زوی او لور ته په مينه وکتل: «خوشاله يم، چې يو بل سره کارونو کې مرسته کوئ، دغسې همېشه له يوبل سره مرسته کوئ!»



لمر لومړی دوو کاسو کې آش واچاوه. بیا یې لپاسهورباندې یوه یوه کاشوغه مستې زیاتې کړې. او له پاسه یې هم یو څه وچ ویلنی ورباندې ودوړاوه. بیا یې یوه کاسه د مور مخې ته او بله کاسه د خور مخې ته کښېښوده:



«ونیسئ؛ نوش جان مو، دارو مو شه.»

لمر خوشاله و، چې د کور په کارونو کې کورنۍ سره مرسته کوي.



لمر په پخلنځي کې د لوښو مینځلو په حال کې

